ژباړه: فرهاد ویاړ


۲۳ می ۲۰۱۳

## د یانګ تسه له سیند څخه تیریدل

## (۱)



د ۱۹۴۹ کال د پسرلي ورځې دي. «لیوسیانګ» کلی په بی اعتمادی او اندیښني کي ډوب دی. خلک ډیر کم له خپلو کورونو راوځي؛ یوازې د ګومینډان سرتیري په کوڅو کي ګزمه کوي.



لیوسیانګ د «یانګ تسه» د زیږ سیند تر څنګ واقع او د «کیانګ بین» د ناحیې اصلي تمځای ګڼل کیږي. دا کلی د دې لپاره چې د چین د شمال او سویل په لاره کې واقع شوی له پوځي پلوه ډېر زیات اهمیت لري. د خلکو آزادي بخښوونکی پوځ له سیند څخه د تیریدلو لپاره چمتو شوی دی. د همدې لپاره د ګومینډان ارتجاعي پوځ د سیند د لا ښه څارنې لپاره په دې کلي کې قرارګاه جوړه کړې ده.



د ښمن سرتیري له ټولو هغو مسافرینو څخه د سیند له شمالي څنډې په جاله کې راځي، پوښتنې او ګرویږنې کوي.



هغه افسر چې د دې پیغلې انجلۍ مخه نیولی، د ښمنانو د قرارګاه نوی قوماندان «هئو ـ کین پیاڼو» دی. هغه، د انجلۍ په لاس کې کڅوړې ته اشاره کوي او په اوچت آواز وایي: «په کڅوړه کې دې څه دي؟» انجلۍ بې له دې چې کومه خبره وکړي په سپکاوي سره کڅوړه د هغه د پښو مخې ته تشوي.



افسر، کله چې په ځمکه توي شوي ممپلي ويني، خوله يې له اوبو ډکيږي او وايي:«ممپلي پريږده او په خپله له دې ځايه ورکه شه.» انجلۍ په حسرت سره ممپلو ته ګوري او کڅوړه راټاويي او د تخرګه لاندې يې نيسي او دکلي په خوا روانيږي.




انجلۍ د څو کيلړليچونو وروسته د خوراکي توکو يوه پلورنځي ته رسيږي. د پلورنځي ځوان شاګرد د خپل خور په ليدني سره په خوشالۍ چيغه کوي:«خورې، بالاخره راغلۍ!»
د پلورنځي مالک هم د هغې هرکلي ته راوځي.



دا پلورنځی، اصلاً د یوې مخفي او پټې ډلې د اطلاعاتو مرکز دی چې مالک یې «چانګ کانګ وان» د ډلې مشر او لارښود دی. «کیانګ تا ـ پئو» د هغه شاګرد د خپل خور «کیانګ چه ـ پنګ» سره، دواړه د هغه رابط مامورین دي.



قوماندان چانګ، بهر ته په ځغلنده ګوري، آرامه آرامي ده. بیا دروازه ځان پسې تړي او درې واړه اوچت پوړ ته ځي. چانګ له انجلۍ تپوس کوي:«ښه، څه خبرې دي؟» چه پنګ هغه ممپلۍ چې د کځوړې په درز کې پټ کړې، راوباسي او وايي:«دا هم د یانګ تسه برخي د شورا هدایت.»